پۀ 13 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 23 رمضان الکریم، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

قرآني بیان

پۀ نوم

# سورۂ مُلک

# (فضیلتونه او مضمونونه)

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---آیا مړي خبرې کولے شي؟
- ---تکبر د انسان سره نۀ ښائي
- --- د فلسفي تکبر څنګه مات شو (واقعه)
- --- ژوند د ازمیښت د پاره دے

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اَكْثَرُكُمْ اَزْوَاجًا فِی الْجَنَّةِ اَكْثَرُكُمْ صَلَاةً عَلَیَّ

ترجمه: په جَنَّت کښې به د ټولو نه زياتې حُورې هٰغه کَس ته ميلاوېږي کوم چې په ما باندې د ټولو نه زيات درود لوستونکے وي-[1]

عاصیو جُرم کی دوا ہے درود | کیا دوا عینِ کِیمیا ہے درود
حشر کی تیرگی سیاہی میں | نور ہے، شمع پُرضیا ہے درود
چھوڑیو مَت درود کو کافؔی | راہِ جنّت کا رہنما ہے درود [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]...افضل الصلوات للنبهانی، الفصل الرابع، صفحه:29۔

[2]...کافی کی نعت، صفحه:39 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پۀ اَدب به کښېنم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سورۂ سجده او د سورۂ مُلک د لوستلو فضیلت

اِمام جلالُ الدِّین سیوطي شافعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ کوم چې د خپل وخت ډیر لوئي عالِم، مُفَسِّر، مُحَدِّث او وَلِئ کامِل دے، هغوئي پۀ خپل کتاب شرحُ الصَّدور کښې یوه واقعه لیکلې ده: حضرت اَبَان اَبُو عیّاش رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: کله چې حضرت مُوَرِّق عَجلي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وفات شو نو هُغه وخت زۀ د هغوئي خوا ته موجود ووم، کله چې هغوئي له کفن ورکړے شو نو مونږ وکتل چې ◈ د هغوئي د سر نه یو نُور ووتلو او چت یې وشلولو او بره لاړو ◈ بیا هم داسې یو نُور د ښپو د طرف نه اوچت شو ◈ بیا هم داسې نُور د وجود د مینځنۍ حصې نه ووتو او د اسمان طرف ته اوچت شو۔

لا پۀ دې اِیمان تازه کوونکې منظر لیدو باندې مونږ حیران وو چې حضرت مُورِّق

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خپل مخ نه کفن لرې کړو او اوئې وئيل: آيا تاسو څۀ ليدلي دي؟ مونږ ووئيل: آؤ جي! داسې درې نُورونه اوچت شوي مو وليدل- هغوئي وفرمائيل: دا سُورۀ سجده ده کومه چې به هره شپه ما لوستله ◈ د دې د وړومبو 14 آيتونو نُور زما د سر نه ◈ د اخرو 14 آيتونو نُور زما د ښپو د طرف نه او ◈ د سجدې د آيت نُور زما د وجود د مينځنى حصې نه اوچت شو، دا مبارک سُورت زما د شفاعت کولو د پاره د اسمانونو طرف ته تلے دے او سُورۀ مُلک دا وخت زما حفاظت کوي- د دومره وئيلو نه پس هغوئي بيا وفات شو-(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره اِيمان تازه کوونکې خبره ده، لږ سوچ خو اوکړئ چې د هُغه وفات کيدونکي به څومره مزې وي، د کوم د رُوح د وتو سره چې د قرآني سُورتونو داسې فيضان نصيب شي-

ګڼي نو مرګ کيدل خو ډير ګران کار دے، آه! ◈ هُغه د رُوح وتلو سختيانې، د تورې د زرو [1000] ګزارونو نه زيات سخت تکليف ◈ بيا د دُنيا د پريښودو غم ◈ د خپلوانو عزيزانو ◈ د آل اولاد د جدايي غم ◈ د دې سره سره د قبر تنهائي، ويره او د تيارې سره مخ کيدل ◈ پۀ زرګونو قِسمه مشکلات دي، د کومو سره چې مړے د رُوح وتلو سره مخ کيږي-

مرګ کيدل خو هم مونږ ټولو ته دي، الله پاک دې د خير او عافيت والا وخت راولي، خپل ځان پۀ دې ځائے کيږدئ او سوچ اوکړئ!چې کله زمونږ رُوح د تن نه جُدا شي او د

---

[1]...شرح الصدور، الباب الخامس عشر: من يحضر الميت...الخ، صفحه:56-

دې سره قرآني سُورتونه زمونږ د مدد د پاره راشي، د ځنکدن د سختي راله هډو اِحساس هم رانکړي، پهٔ حفاظت سره مو د قبر د عذاب نه بچ کول شروع کړي، يو مقدس سُورت د الله پاک پهٔ دربار کښې زمونږه شفاعت کوي، بل مبارک سُورت مونږ د عذاب د فرښتو نه بچ کوي، بل مبارک سُورت د وحشت او تنهايۍ نه د بچ کولو د پاره زمونږ پام غلطوي ---!! سُبْحٰنَ الله! تشي مزې به وي۔

ظاهره ده چې د داسې فضيلتونو موندلو د پاره به د اوس نه د دُنيا پهٔ دې ژوند کښې مونږ له محنت کول وي، نن چې مونږ قرآنِ کريم پهٔ سينه پورې ونيسو، د دې د تِلاوت عادت جوړ کړو، نو بيا اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د داسې عطاګانو حقدار جوړيدے شو۔

عبادت میں تلاوت میں ریاضت میں لگا دے دل
مہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولا

## آيا مړي خبرې کولے شي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت مُوَرِّق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات اِيمان تازه کوونکے حال مونږ واوريدو، کيدے شي چې پهٔ زړهٔ کښې وسوسه راشي چې مړے، د مړ کيدو نه پس بيا راپاڅيدے او خبرې څنګه کولے شي---؟ د دې وسوسې جواب بالکل اسان دے، الله پاک ته څهٔ ګران دي---!! که هُغه کريم مالِک وغواړي نو څهٔ نشي کيدے، بے شکه هغه پهٔ هر څيز باندې قدرت لري ◈ د قرآنِ کريم تِلاوت کوئ! د مړو د بيا را ژوندي کيدو ډيرې واقعې پهٔ قرآنِ کريم کښې موجودې دي ◈ پهٔ وړومبۍ سيپاره کښې د 70 کسانو د مرګ نه پس د ژوندي کيدو واقعه ده ◈ هم پهٔ وړومبۍ سيپاره کښې يو کَس کوم چې

وژلے شوے وو، د هغه د را ژوندي کیدو او د خپل قاتِل د نوم ښودلو واقعه ده ◈ پهٔ دویمه سیپاره کښې د 70 زره کسانو د مرګ نه پس د بیا را ژوندي کیدو واقعه ده ◈ پهٔ دریمه سیپاره کښې د حضرت عزیر عَلَيْهِ السَّلَام د 100 کالو پورې د اودهٔ کیدو او بیا د را ژوندي کیدو واقعه ده ◈ پهٔ 15 سیپاره کښې د اَصحابِ کَهف 300 کاله پس د بیا را ژوندي کیدو مشهوره واقعه ده-

غرض دا د اللّٰه پاک د قدرت نخښې دي چې که هغه وغواړي نو د خپلو قدرتونو اِظهار هم داسې فرمائي-

د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه هم ډېر کلونه مخکښې تیر شوے بزرګ دے: اِمام اِبنِ اَبِي الدُّنیا- هغوئي ډېر لوئې مُحَدِّث وو، د هغوئي یو کتاب دے: مَنْ عَاشَ بَعْدَ الْمَوْت (یعنې د مرګ نه پس د را ژوندي کیدونکو واقعات ) پهٔ دې کښې هغوئي ډېر حدیثونه، روایتونه پهٔ دې موضوع باندې راجمع کړي دي چې کوم کوم بزرګ د وفات کیدو نه پس بیا راژوندے شو او د خلقو سره یې خبرې اوکړې- لهذا هڅې بے هیڅه د وسوسو ښکار کیدو پهٔ ځائے مونږ له پکار دي چې د قدرت پهٔ داسې نخښو لیدو یا اوریدو د دې نه سبق حاصل کړو-

## د سورۂ مُلک او د سُورۂ سجده تِلاوت سُنَّت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! سُورۂ مُلک او سُورۂ سجده د قرآنِ کریم دا سُورتونه ډېر زیات اُوګدهٔ نهٔ دي، روزانه د شپې د اودهٔ کیدو نه مخکښې د دې دواړو سُورتونو تِلاوت کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- صحابئ رسول حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د سُورۂ مُلک

او **سُورۂ سجده** د تِلاوت کولو نه بغير ارام نهٔ فرمائيلو۔[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له هم روزانه د شپې د دې دواړو سُورتونو د تِلاوت کولو عادت جوړول پکار دي۔ که دواړه نهٔ وي نو کم از کم د **سُورۂ مُلک** د لوستلو خو پوخ نيت اوکړئ!

## د سورۂ مُلک مختصر تعارف

**سورۂ مُلک** د 29 سيپارې وړومبے سُورت دے، په دې کښې صرف دوه رکوع او 30 آيتونه دي، **سُورۂ مُلک** ◈ سُورۂ **مُنجِيَه** (يعني نجات ورکوونکے سُورت) ◈ سُورۂ **مَانِعَه** (يعني عذاب اِيسارونکے سُورت) ◈ سُورۂ **شافِعَه** (يعني شفاعت کوونکے سُورت) ◈ او سُورۂ **مُجَادِلَه** (يعني د خپل لوستونکي د پاره جګړه کوونکے سُورت) وغيره د دې مختلف نومونه دي۔[2]

## سُورۂ مُلک به شفاعت کوي

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، مکي مَدَني، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په قرآنِ کريم کښې د 30 آيتونو يو سُورت دے کوم چې به د خپل لوستونکي شفاعت کوي د دې پورې چې هغه به وبخښلے شي۔ هغه سُورت تَبٰرَكَ الَّذِیۡ بِیَدِهِ الۡمُلۡكُ دے۔[3]

---

[1] …ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ما جاء فی فضل سورة الملک، صفحه:672، حدیث:2892۔
[2] …تفسیر صراط الجنان، پارہ:29، سورۂ ملک، جلد:10، صفحه:233 ملتقطاً۔
[3] …ابو داؤد، کتاب شهر رمضان، باب فی عدد الای، صفحه:230، حدیث:1400۔

## سُورۀ مُلک به جګړه کوي

پۀ روایت کښې دي: **سُورۀ مُلک** به د خپل لوستونکي د طرف نه جګړه کوي د دې پورې چې هغه به جَنَّت ته داخِل کړي-[1]

## د قبر د عذاب نه بچ کوونکے سُورت

حضرت عبد الله بن مَسعُود رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: څوک چې روزانه د شپې د **سُورۀ مُلک** تِلاوت کوي، کله چې هغه قبر ته لاړ شي او د عذاب فرښتے د هغه د ښپو د طرف نه راشي نو د هغۀ ښپې به وائي: ستا د پاره دلته هیڅ لار نشته، ځکه چې دۀ به (پۀ شپه کښې) **سُورۀ مُلک** لوستلو- بیا به فرښتے د هغۀ د خِیټې د اړخ نه راشي نو هغه به وائي: ستا د پاره زما د طرف نه هم هیڅ لار نشته ځکه چې دۀ پۀ ما کښې دننه **سُورۀ مُلک** یاد ساتلے وو، بیا به هغه د هغۀ د سر د اړخ نه راشي نو سر به وائي: ستا د پاره زما د طرف نه هم هیڅ لار نشته، ځکه چې دۀ به (پۀ شپه کښې) **سُورۀ مُلک** هم زما نه لوستلو- **نو څوک چې دا د شپې لولي ډیر زیات او ښۀ عمل کوي**-[2]

## نجات ورکوونکے سُورت

حضرت عَبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما یو کَس ته وفرمائیل: آیا تاسو له زۀ د یوې داسې خبرې تحفه در نکړم کومه چې تا خوشحاله کړي؟ هغه ووئیل: ولې نۀ- اوئې فرمائیل: تۀ

---

1 ...شعب الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحه:494، حدیث:2508۔

2 ...مستدرک، کتاب التفسیر، تفسیر سورۃ الملک، جلد:3، صفحه:322، حدیث:3892۔

پخپله هم د **سُورۂ مُلک** تِلاوت کوه او خپل کور والؤ، خپل اولاد، د کور ماشومانو او ګاؤنډیانو ته یـې هم وښایه څکه چې دا نجات ورکوونکـے او جګړه کوونکـے دے- دا به د قیامت پۀ ورځ د خپل لوستونکـي د پاره د **الله** پاک سره جګړه کوي او د هغه د پاره به د دوزخ د عذاب نه د نجات غوښتنه کوي او د دۀ لوستونکـے به د قبر د عذاب نه محفوظ وي-(1)

## سُورۂ مُلک یـې شفاعت اوکړو

د حضرت اَنس بِن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: یو کَس وفات شو، هغه ته صرف **سُورۂ مُلک** یاد وو، کله چې هغه قبر ته کوز کړے شو او د عذاب فرښته راغله نو دا سُورت هغۀ ته مخامخ شو، فرښتے ووئیل: تۀ د کتابُ الله [د **الله** پاک د کتاب] نه یـې او زما ستا سره بے ادبي هیڅکله خوښه نۀ ده، زۀ ستا د پاره، د دې مړي د پاره او د ځان د پاره د هیڅ ګټې او نقصان مالِک نۀ یم، که تۀ دے د عذاب نه بچ کول غواړې نو زما سره د **الله** پاک دربار ته لاړ شه او د دۀ د پاره سفارش اوکړه- نو **سُورۂ مُلک** د **الله** پاک دربار ته ورسیدو او عرض یـې اوکړو: اے زما ربه! ستا فلانکـي بنده زۀ ستا د کتاب نه منتخب کړم او زده یـې کړم او زما تِلاوت یـې اوکړو، آیا تۀ به هغه پۀ وور سیزې او عذاب به ورکوې حالانکـې زۀ د هغۀ پۀ سینه کښې یم؟ اِلٰهی! که ستا هم دا اِراده ده نو ما د خپل کتاب نه لرې کړه- **الله** پاک وفرمائیل: زۀ تا ناراضه وینم- **سُورۂ مُلک** عرض اوکړو: ناراضه کیدل زما حق دے- **الله** پاک اِرشاد وفرمائیلو: لاړ شه ما هغه تا ته حواله کړو او د هغۀ پۀ حق کښې مې ستا سفارش قبول

---

1 ...التذکرة في احوال الموتىٰ والقبور، باب ما ینجي المؤمن من اهوال...الخ، جز:1، صفحه:131۔

کړو۔ نو هغه واپس لا ړو او د عذاب فرښته واپس خالي لاسونه لاړله۔ بیا **سُورۂ مُلک** د هٔغه مړي په خُله باندې خپله خُله کیښودله او وه یې وئیل: ځومره ښکلې ده دا خُله کومې چې به اکثر زما تِلاوت کولو، ځومره ښکلې ده دا سینه کومې چې زهٔ محفوظ کړے یم او ځومره ښکلي دي دا ښپې د کومو په مرسته چې به زما تِلاوت کولے شو۔ بیا هغه په قبر کښې د هغهٔ د زړهٔ خیال ساتي د پاره د دې چې هغه ویریږي نهٔ - حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: کله چې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره بیان کړه نو هر وړوکي لوئي، ازاد او غلام دا سُورت زده کړو او نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې نوم **مُنجِیَه** (نجات ورکوونکے) کیښودو۔[1]

## د سُورۂ مُلک د لوستلو عادت جوړ کړئ!

سُبْحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ! ځومره ښکلے روایت دے، کاش چې مونږ هم په دې باندې عمل کوونکي جوړ شو۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې مونږ ته د نیک اعمالو کولو د پاره کومه د 72 نیک اعمال نسخه راعطا کړې ده، په هغې کښې د **سورۂ مُلک** د تِلاوت والا نیک عمل هم شامل دے، نو نیک عمل نمبر: 4 دے: آیا نن تاسو نن شپه **سُورۂ مُلک** لوستلے یا اوریدلے؟

تاسو هم نیت اوکړئ چې هم د نن نه به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دې نیک عمل باندې په پابندی سره عمل کوو او روزانه به د شپې د **سُورۂ مُلک** تِلاوت کوو یا اورو۔

---

[1]…تاریخ مدینه دمشق، جلد:6، صفحه:46۔

## د سُورۂ مُلک د مضامینو خُلاصه

خورېو او محترمو اِسلامي ورونړو! سُورۂ مُلک هسې خو یو مختصر سُورت دے، البته! د دې مضامین ډېر زور او په دې کښې دننه ډېر اعلیٰ معلومات موجود دي، په دې مبارک سُورت کښې د **الله** پاک قدرتونه بیان کړے شوي دي، په آیت: 3 او 4 کښې فرمائي: هُم هُغه خُدائے دے، چا چې د یو بل د پاسه 7 اسمانونه جوړ کړل، آیا تاسو ته د رَبِّ رحمان په تخلیق کښې څۀ کمے په نظر راځي؟ نظر وګرځوئ--!! وګورئ اسمان ته--!! دومره لوئي، پراخه اسمان کوم چې ټوله زمکه ګیره کړې دہ، بغیر د ستنو نه ولاړ دومره لوئي چت--!! آیا تاسو ته په دې کښې معمولي شان هم څۀ فرق، څۀ سورے په نظر راځي؟ بیا نظر وګرځوئ! بیا وګورئ--!! بیا بیا وګورئ--!! ښه په غور وګورئ--!! که زر [1000] کرته هم وګورئ نو ستاسو نظر به نا مُراده واپس راشي، په اسمان کښې به درته چرته هم څۀ وړوکے شان سورے په نظر رانشي- سُبۡحٰنَ الله! څومره زبردست تخلیق دے--!!

په آیت: 19 کښې فرمائي: د ځان د پاسه الوتونکو مرغو ته وګورئ--!! دا څنګه په وزرو خورولو په هوا کښې اویزاني وي، راغورځېږي نۀ، دوئي د زمکې او اسمان ترمینځه چا اِیسار کړي دي--؟ یقیناً هم هُغه رَبِّ رحمان او رحیم دے-

په آیت: 23-24 کښې فرمائي: هُغه رَبِّ رحمان او رحیم دےچا چې تاسو پیدا کړئ، ستاسو د پاره یې غوږونه، سترګې او زړونه جوړ کړل، هم هُغه **الله** پاک دے، چا چې تاسو په زمکه کښې خوارۀ کړئ، بیا به د هغۀ طرف ته تاسو راجمع کولے کیږی-

سُبۡحٰنَ الله! خورېو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې مضمونونو باندې بیا بیا غور اوکړئ!

واقعې چې زما د رَبِّ کريم څومره عظيم شان دے--!! څومره اعلیٰ تخليقات يې دي، د دې په ليدو، په دې باندې په غور کولو، د اِيمان والؤ زړونه په تيز اواز چغه کوي :

| | |
|---|---|
| تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ٘ وَ هُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرُۙ۟ (پاره:29، سورۀ مُلک:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د لوئي برکت خاوند دے هُغه ذات د چا په قبضه کښې چې ټوله بادشاهي ده او هغه په هر څيز ډير ښه قادر دے- |

## د سُورۀ مُلک دوه مرکزي مضمونونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هسې خو په سُورۀ مُلک کښې نور هم ډير ښکلي ښکلي مضمونونه دي، البته! ډير اهم مضمونونه کوم چې د دې سُورت مرکزي مضمونونه ګرځولے کيدے شي، هغه 2 دي:

## (1): مُلک، قدرت، اِختيار هر څۀ د اللّٰه دي

وړومبے اهم مرکزي مضمون هُغه دے کوم چې د دې سُورت بالکل په وړومبۍ جمله کښې اِرشاد شوے:

| | |
|---|---|
| تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ٘ۙ (پاره:29، سورۀ مُلک:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د لوئي برکت خاوند دے هُغه ذات د چا په قبضه کښې چې ټوله بادشاهي ده- |

یعنې مُلک، قُدرت، اِختیار ټول پهٔ ټوله د **اللہ** پاک دے- هم هغه د دې شان مالِک دے د کوم خوښه چې پهٔ دې کائنات کښې نافذه ده- یو شاعر وئیلي وو:

کسی کو سوچوں نے کب سراہا، وہی ہُوا جو خُدا نے چاہا
جو سب کے ماتھے پہ مہر قدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

## غرور د اِنسان سره نهٔ ښائي

زمونږ د اِنسانانو یوه کمزوري ده، زمونږ چې کله لږ شان طاقت، قوت، اِختیار لاس ته راشي نو مونږ هغې بے هیڅه د غرور او تکبر ښکار کیږو ◈ فرعون ته وګورئ! د هغه چې تاج او تخت نصیب شو نو ځان ته یې خُدائے وئیل شروع کړل ◈ نمرود بد بخته ته چې اختیارات میلاؤ شول نو د خُدایي دعوىٰ یې اوکړه ◈ هم داسې نور ځومره تیر شوي دي، نن به هم ځومره داسې خلق وي، چې هغې بے هیڅه د غرور او تکبر ښکار کیږي- مولانا رُوم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه لیکلي دي:

نَفْسِ کَس رَا فِرْعَوْن نَیْسْتْ
لَیْک اُو رَا عَوْن کَس رَا عَوْن نَیْست

مفهوم: یعنې هغه څوک دے د چا نَفسِ اَمّاره [یعنې پهٔ ګناهونو باندې راپارونکے نفس] چې فرعون نهٔ دے، خبره دا ده چې د هغه فرعون تاج او تخت او حکومت لاس ته راغلے وو، زمونږ دا څیزونه نهٔ دي نصیب شوي- که لاس ته راشي نو عام خلق به هم پهٔ فرعون جوړیدو کښې وخت نهٔ لګوي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا واقعي چې دا حقیقت دے، مونږه اِنسانان ډیر زر د قابو نه بهر کیږو، حالانکې که مونږ هم په خپل ځان باندې غور اوکړو نو معلومه به شي چې مونږ ډیر بے وسه، عاجزه او بے کاره مخلوق یو- څومره دائرې دي په کومو کښې چې مونږ راګیر یو، که غواړو هم نو د هغې نه مونږ وتلے نه شو- د مثال په توګه ◈ لاندې زمکه، بره اسمان، دا یوه دائره ده، مونږ په دې کښې دننه راګیر یو- مونږ د دې دائرې نه بهر نه شو وتلے- په سُورۂ رحمان کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ فَانْفُذُوْا (پارہ:27، سورۂ رحمٰن:33) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: اے د پیریانو او اِنسانانو ډلو! که تاسو نه کیدے شي چې د اسمانانو او زمکې د غاړو نه ووځئ نو ووځئ- |

غور اوکړئ! آیا د دې کربښې نه وتلے شو؟ نشو وتلے ◈ دغه شان مونږ په وخت کښې دننه راګیر یو، مستقبل مونږ نشو لیدلے، د تیر وخت طرف ته واپس نشو کرځیدے، دا بس اوسنے یو ساعت دے، کوم چې زمونږ سره دے، بس په دې یو څو سیکنډو باندې مونږ اِختیار لرو- مونږ ټائِم لَیس (یعني د وخت د قید نه ازادیدے) هم نشو- داسې هم نشو کولے چې په مونږ هډو وخت نۀ تیریږي- څومره بے وسه یو مونږ--!! په خپل ژوند کښې، په خپلو ساه ګانو باندې هم خپل اِختیار نۀ لرو-

په سورۂ مُلک کښې مونږ ته بیا بیا داسې خبره شوې ده، زمونږه هم دا بے وسې مونږ ته بیا بیا رایاده کړے شوې ده- د سُورۂ مُلک بالکل اخري آیت ته وګورئ!

| | |
|---|---|
| قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ اِنۡ اَصۡبَحَ مَآؤُکُمۡ غَوۡرًا فَمَنۡ یَّاۡتِیۡکُمۡ بِمَآءٍ مَّعِیۡنٍ ﴿۳۰﴾<br>(پاره:29، سورۂ مُلک:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه: تاسو وګورئ خو! که سحر له ستاسو اوبهٔ پهٔ زمکه ننوزي نو هغه څوک دے چې هغه به تاسو له د سترګو پهٔ وړاندې بهيدونکې اوبهٔ راوړي؟- |

غور اوکړئ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ښه پهٔ تسلی سره غور اوکړئ چې مونږ څومره مجبوره او بے وسه يو، زمونږ د زمکې اوبهٔ که چرې وچې شي، آيا مونږ د دې جوګه يو چې مونږ د چرته نه د اوبو بندوبست اوکړو---؟ نهٔ يو-

## د فلسفي غرور څنګه مات شو---؟

مولانا رُوم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پهٔ مَثنَوِي شريف کښې ليکلي دي: يو ځل يو فلسفي پهٔ يو ځائے باندې تيريدلو چې هغهٔ د قرآنِ پاک تِلاوت واوريدو، يو کَس د سُورۂ مُلک تِلاوت کولو، کله چې هغهٔ د سُورۂ مُلک اخري آيت تِلاوت اوکړو، پهٔ کوم کښې چې الله پاک فرمائي:



| | |
|---|---|
| قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ اِنۡ اَصۡبَحَ مَآؤُکُمۡ غَوۡرًا فَمَنۡ یَّاۡتِیۡکُمۡ بِمَآءٍ مَّعِیۡنٍ ﴿۳۰﴾<br>(پاره:29، سورۂ مُلک:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه: تاسو وګورئ خو! که سحر له ستاسو اوبهٔ پهٔ زمکه ننوزي نو هغه څوک دے چې هغه به تاسو له د سترګو پهٔ وړاندې بهيدونکې اوبهٔ راوړي؟- |

د دې آیت مبارک پۀ اوریدو هُغه فلسفي پۀ تکبر او غرور کښې ووئیل: دا کوم ګران کار دے، که الله پاک اوبۀ پۀ زمکه کښې ننباسي نو مونږ به د سائنس پۀ زور د مختلفو آلو پۀ ذریعه اوبۀ بیا راوباسو- دې کافِر او مُنکر فلسفي دا خبره اوکړه او پۀ خپله لاره روان شو، د شپې چې کله دے اودۀ شو نو خوب یــې ولیدو چې یو ډیر طاقتور ګس راغلو، هغه هُغه فلسفي له پۀ مخ یوه مضبوطه څپیړه ورکړه، د هغۀ دواړه سترګې را ووتلې او ورسره چې پۀ سترګو کښې چې کوم نُور وو یو څاڅکے اوبۀ وې هغه پۀ زمکه باندې پریوتلې او وچې شوې-

پۀ خوب کښې راغلي هُغه ګس ورته هم پۀ خوب کښې ووئیل: اے بد بخته! که تۀ واقعي د کودالې، بیلچې او نورو سائنسي آلو پۀ ذریعه د الله پاک د مدد نه بغیر د زمکې نه اوبۀ راویستے شې نو د خپلو سترګو نه وتلي دا دوه څاڅکي اوبۀ د زمکې نه راوباسه؟ سحر چې کله فلسفي راپاځیدو نو سترګې یــې چاودلې وې، هیڅ ورته نۀ ښکاریدل، د غرور او تکبر ټوله نشه ترې تلې وه او الله، الله چغې یــې وهلې-[1]

کسی کو تاجِ وقار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے
جو سب کے ماتھے پہ مہرِ قُدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې مونږه څومره عاجزه مخلوق یو- سُورۀ

[1]...مثنوی معنوی، دفتر دوم، انکار فلسفی بر ...الخ، صفحه:197196 مفصلاً-

مُلک مونږ ته وائي چې اے اِنسانه--!! لږ خپل حیثیت ته وګوره--!! د ځان په بے وسۍ باندې غور اوکړه! د خپلې اَنَا، غرور او تکبر نه ووځه او د **الله** پاک په دربار کښې د عاجزۍ نه سر ټيټ کړه--!!

خپله دا بے وسي مخې ته کيږدئ او د سُورۂ مُلک آيت: 16 او 17 واورئ، **الله** پاک فرمائي:

ءَاَمِنۡتُمۡ مَّنۡ فِي السَّمَآءِ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمُ الۡاَرۡضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوۡرُ ﴿١٦﴾ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ مَّنۡ فِي السَّمَآءِ اَنۡ يُّرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعۡلَمُوۡنَ كَيۡفَ نَذِيۡرِ ﴿١٧﴾

(پاره:29، سورۂ مُلک:1716)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا تاسو د هغه الله نه بے ويرې شوۍ د چا بادشاهي چې په اسمان کښې ده د دې خبرې نه چې هغه تاسو په زمکه ښکته راښکې [ننباسي] نو هغه زمکه به ناڅاپه په رپيدو شي- يا تاسو د هغۀ نه بے ويرې شوۍ د چا بادشاهي چې په اسمان کښې ده، د دې خبرې نه چې هغه په تاسو د کاڼو باران را اوليږي، نو تاسو به زر پوهه شۍ چې زما ويرول څنګه وو-

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! سوچ اوکړئ! ښه په ارام، ځانله کښينئ او غور اوکړئ! مونږ چې کوم عاجزه يو، مونږ چې کوم بے کاره يو، مونږ چې کوم بے وسه يو، مونږ چې کوم په خپلو ساه ګانو باندې اِختيار هم نۀ لرو، که واقعي مونږ په زمکه باندې دننه کړے شو، په مونږ باندې د اسمان نه کاڼي را اووروړلے شي نو زمونږ به څۀ کيږي؟ چې مونږ

داسې عذابونه نشو اِیسارولے او نۀ یـې مقابله کولے شو نو بیا دا سرکشي ولې---؟ بیا دا اَنَا، دا غرور، دا تکبر، دا نافرماني څنګه---؟ بیا ولې د **الله** پاک پۀ دربار کښې سر نۀ ښکته کوو؟ ولې د هغۀ عاجزه بندګان نۀ جوړېږو؟

## د تکبر نشه یـې لا رہ

یو ډېر ظالِم حکمران تیر شوے دے: **حجاج بن یُوسُف**- د هغۀ د فوځ یو مشر وو، د کوم نوم چې **مُهَلّب** وو- یوه ورځ **مُهَلِّب** د ریښمو جامې اغوستې وې او پۀ فخر او غرور سره روان وو، حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې هغه داسې پۀ تکبر کښې پۀ ګرځېدو ولیدو نو پۀ زړۀ کښې یـې د نیکۍ د دعوت جذبه راببداره شوه، حضرت مُطَرَّف بن عبد الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه **مُهلِب** له تشریف یوړلو او اوئې فرمائیل: اے د الله بنده! د ګرځېدو دا انداز د **الله** پاک د ناخوښه خلقو او د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو دے-

مُهَلِّب د فوځ سر لښکر وو، د عهدې او د منصب نشه د هغۀ پۀ مزغو سورۀ وه، کله چې هغۀ وکتل چې یو کَس هغۀ ته نصیحت کوي نو پۀ غصه کښې یـې ووئیل: آیا تۀ ما نۀ پیژنې چې زۀ څوک یم؟ حضرت مُطَرَّف بن عبد الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم مَاشَآءَالله! د ژوندے زړۀ لرونکے وو، هغوئي پۀ نرمۍ سره اِرشاد وفرمائیلو: آؤ! پیژنم دې چې تۀ څوک یـې: اَوَّلُكَ نُطۡفَةٌ مَذِرَةٌ ستا وړومبے حالت دا دے چې تۀ یو نا پاک څاڅکے وې، وَ اٰخِرُكَ جِيۡفَةٌ قَذِرَةٌ ستا اخري حالت به دا وي چې تۀ به سخا مُردار شې وَاَنۡتَ تَحۡمِلُ الۡعَذِرَةَ او (د دې دواړو حالتونو ترمینځه) تۀ پۀ ځیټه کښې ګند ګرځوې- پۀ دې اوریدو د مُهلِّب عقل ځائے له

راغلو، هغه د تکبر تګ پریښودو او وړاندې روان شو-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د غور مقام دے، مونږ واقعي چې ډیر عاجزه مخلوق یو، خیر په دې کښې دے چې مونږ د الله پاک په دربار کښې عاجزي او انکساري اختیار کړو او خپل سر همیشه د هغۀ په مخکښې ټیټ ساتو-

اُچے بوْل نہ بوْل ظُہوْرِی ربّ دے بندِے کِہہ گئے نَیں
نِیوِیں پاکے ٹُردیاں رہناچنگالگدا اے[2]

وضاحت: اے ظهوريؒ! د الله پاک نیکانو بندګانو وئیلي دي چې چرې هم لوئي خبرې مۀ کوه! بس په عاجزي سره په سر ټیټولو ژوند تیرول، ډیر ښه لګي-

## (2): ژوند د ازمیښت د پاره دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې دا ثابته شوه چې ټول اِختیار د الله پاک دے، نو دلته یو عام شان سوال پیدا کیږي چې آیا مونږ مجبور محض یو--؟ د سُورۂ مُلک د دویم مرکزي مضمون نه زمونږ د دې سوال جواب میلاؤیږي، د دې مبارک سُورت په دویم آیت کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ وَ ہُوَ الۡعَزِیۡزُ | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هغه ذات چا چې مرګ او ژوند پیدا کړل د پاره |

---

1...اللباب في علوم الكتاب، پاره:29، سورۂ معارج، زیر آیت:39، جلد:19، صفحه:375 خلاصةً۔

2...کلیات ظهوری، صفتاں سوہنے رسول دیاں، صفحه:47۔

الْغَفُوْرُ ۙ﴿۲﴾ (پاره:29، سورۂ مُلک:2)

د دې چې ستاسو ازمېښت اوکړي چې پۀ تاسو کښې څوک زيات ښه اعمال کوونکے دے او هُم هغه د ډېر عزت والا، ډېر بخښونکے دے۔

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روايت دے: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **سُورۂ مُلک** تِلاوت کولو کله چې دې آيت مبارک ته راورسيدو نو وه يې فرمائيل: دا کتنه به کيږي چې څوک د **الله** پاک د حرام کړے شوو څيزونو نه زيات بچ کيږي او څوک د **الله** پاک پۀ حکمونو باندې پۀ عمل کولو کښې ډېره تادي کوونکے دے۔ [1]

معلومه شوه چې مونږ مجبور محض نۀ يو بلکې مونږ له پۀ خپل دې موجوده ساعت باندې اِختيار راکړے شوے دے، مونږ پۀ خپل دې اوسني ساعت کښې نيکئ کوو که ګناهونه کوو؟ نمونځونه کوو که مَعَاذَالله! شراب څښل اِختياروو ◈ تِلاوت کوو که د غيبت او چغلئ اِنتخاب کوو ◈ رښتيا وايو که د دروغو اِنتخاب کوو ◈ نورو ته تکليف رسوو که د ښيګړې اِنتخاب کوو؟ دا اِختيار مونږ له راکړے شوے دے او پۀ دې کښې ازمېښت دے، مونږ چې د کوم قِسمه عمل اِنتخاب کوو، هم هغه شان نتيجه به يې بيامونځو، که د ګناهونو لاره اِختياروو نو د سزا حقدار به جوړيږو، که د نيکئ لاره اِختياروو نو د جزاء حقدار به جوړيږو۔

---

[1] … تفسير قرطبي، پاره:29، سورۂ ملک، زيرِ آيت:2، جلد:9، صفحه:135۔

## هر نفس ګانه دے

خوېږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ 29 سيپاره، سورۂ مُدَّثِّر آيت 38 کښې **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ﴿۳۸﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هر نفس پۀ خپلو کړلو اعمالو کښې ګانه ايښودے شوے دے۔ |

مطلب دا دے چې **الله** پاک مونږ ته ژوند راعطا کړو، وجود يې راکړو، لاسونه ښپې يې راکړې، سترګې، غوږونه، پوزه، عقل او پوهه يې راعطا کړه، بيا يې پۀ مونږ باندې حکمونه لازم کړل، ځينې خيزونه پۀ مونږ باندې فرض دي، ځينې پۀ مونږ باندې د **الله** پاک واجبات دي، اوس د دې فرضو او واجبو پۀ بدله کښې زمونږ نفس ګانه کړے شوے دے، که مونږ دا فرض او واجب ادا کوو نو مونږ به خپل ځان د دوزخ نه ازاد کړے شو، که مونږ پۀ دې کښې بے خيالي کوو نو ځان به د دوزخ حقدار جوړوو۔

| | |
|---|---|
| بونے والے جو بوئیں وہ کاٹیں | یہ ہوا تو مرمٹا یاربّ! |
| آہ جو بو چکا ہوں وقت دِرَوْ (کٹائی کے وقت) | ہو گا حسرت کا سامنا یاربّ! |
| مجھے دونوں جہاں کے غم سے بچا | شاد رکھ شاد دائما یاربّ! (1) |

**الله** پاک دې مونږ پۀ دې امتحان کښې کامياب کړي۔ پۀ اخره کښې د قرآنِ کريم د

[1] ...ذوقِ نعت، صفحه:86 ملتقطاً۔

سبق نه ډک يو آيت مبارک واورئ! **الله** پاک فرمائي:

اِسۡتَجِيۡبُوۡا لِرَبِّكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ يَوۡمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ‌ؕ مَا لَـكُمۡ مِّنۡ مَّلۡجَاٍ يَّوۡمَئِذٍ وَّمَا لَـكُمۡ مِّنۡ نَّكِيۡرٍ‏ ﴿۴۷﴾

(پاره:25، سورۂ شوریٰ:47)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: د هٰغه ورځې د راتلو نه مخکښې د خپل رب حکم اومنئ کومه چې د الله له طرفه بيرته ګرځيدونکې نۀ ده- پۀ هٰغه ورځ به ستاسو د پاره هيڅ پناه نۀ وي او نۀ به ستاسو د پاره اِنکار کول ممکن وي-

**الله** پاک دې مونږ ته د حکم منلو، د نيکو کولو، د خپل رَبِّ کريم د خوښو بندګانو جوړيدلو توفيق را عطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: ايف جي آر ايف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسول دِيني او د خير ښيګړې تنظيم دے- د دې تنظيم پۀ ذريعه پۀ لوئې کچ د دِينِ اِسلام د خِدمت سره سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زپلي اُمت خير ښيګړه هم جاري ده-

دې مقصد د پاره د دعوتِ اِسلامي شعبه: **فيضان ګلوبل ريليف فاؤنډيشن (*FGRF*)** جوړه کړے شوې ده- دا شعبه ◈ د مسلمانانو د خير ښيګړې ◈ د يتيمانو د پالنې ◈ پۀ ناخاپي افتونو کښې د مسلمانانو د اِمداد ◈ د ونو نالولو ◈ د وينې ورکولو ◈ د کورونو جوړولو ◈ راشن ◈ او طِبي اِمداد ◈ او د دې نه علاوه پۀ مختلفو سطحو خپلې فريضې

ترسره کوي-

د دې شعبې په ذريعه اوسه پورې کم و زيات◈ 86 زره ډراپونه وينه عطيه ◈ د 95 لاکهه 17 زره نه د زياتو خلقو مالي مرسته ◈ د صحت د مرکز په ذريعه کم و زيات د 92 زره نه د زياتو خلقو طِبي مرسته شوې ده ◈ او کم و زيات 35 لاکهه ونې نالې کړے شوې دي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ الـقُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د مَعرِفَةُ الـقُرآن جاري کړے دے- تاسو د دې ايپلي کيشن په ذريعه ◈ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ◈ په دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو په مدد چې د خپلې خوښې مطابق موضوع او قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ- خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه ډير مدد اخستے شي ◈ په دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد چې د آيتونو په لټولو کښې اساني پيدا کيږي ◈ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے- تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ستاسو خپل دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتیاؤ [80] نه پهٔ زیاتو شعبو کښې د دِین پهٔ خدمت کښې مصروف دے۔

◈ **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د 1500 نه زیات **جامعات الـمدینه** (ګرلز اینډ بوائز)، 19 زره 900 **مدارس الـمدینه** (بوائز اینډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تخصصات (***Specialization***)، فرائض علوم کورسز کولے شي ◈ پهٔ جامعات او مدارسُ الـمدینه ***(Boys & Girls)*** کښې د طالبِ علمانو مجموعي شمیره تقریباً **5 لاکهه 69 زره** ده۔ ◈ د فیضانِ اِسلامک سکول، دار الـمدینه (سکول، کالج، یونیورسټي) شمیره **299** او د نارینؤ او زنانؤ طالبِ علمانو شمیره **د 54 زره** نه زیاته ده ◈ د میډیا پهٔ مختلف پلیټ فارمز باندې هم د دِین د خِدمت لړۍ روانه ده ◈ پهٔ پرنټ میډیا (کښې د ډېرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فیضانِ مدینه د چاپ کولو لړۍ روانه ده کومه چې دا وخت د دُنیا پهٔ 7 لوئي ژبو کښې زیاته چاپ کیدونکې ماهنامه ده) ◈ پهٔ سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب ***(YouTube)***، فیس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغیره) باندې پهٔ شریکه توګه 7 کروړه فالورز (***Followers***) دي او پهٔ شریکه توګه د ویوز شمیره پهٔ بلینز (***Billions***) کښې ده۔

تاسو هم د دِین د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده یعني ډونیشن پهٔ هرقِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیر ښیګړې، پهٔ ښو او د امدن زیاتولو پهٔ جائز او محفوظو کارونو کښې

لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مِری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

◈ د روژې په میاشت کښې په خاص توګه امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چینل** باندې روزانه د مازیګر د نـمونځ او تراویح د نـمونځ نه پس د مَدَني مذاکرې په ذریعه د سوالونو جوابونه ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ◈ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د امیر اهلِسُنَّت ماشومتوب** رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئ دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (***Share***) کړي! ◈ د مسلمانانو د څلورم خلیفه عليٌّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْهُ ذات مبارک د هیڅ تعارف محتاج نهٔ دے، هغوئ د اولیائے کرامو سردار دے، د حضرت علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْهُ بے شمیره کرامات دي د کومو د اوریدو او بیانولو سره چې ایمان تازه کیږي او په زړونو کښې د اهلِ بیتو د محبت شمع بلیږي! مکـتـبـة الـمدینه وړاندې کوي

د هغوئي د کراماتو يوه ښکلي او اِيمان تازه کوونکي مجموعه، پۀ نوم د: **کراماتِ شيرِ خُدا**- دا رساله د مکتبة المدينه د هرې څانګې نه پۀ **35 روپۍ** پۀ بيعه حاصله کړئ- ◈ د روژې مياشت پۀ نيکو کښې د تيرولو د پاره د مکتبة المدينه نه **جنتي اعمال کارډ پۀ 5 روپۍ** حاصل کړئ، د دې نه علاوه جنتي اعمال موبائل ايپلي کيشن انسټال کيدے او د خپلو اعمالو جاج اخستے کيدے شي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي-[(1)]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي**: **(1)**: څوک چې وعده نۀ پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته-[(2)] **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل وورور سره وعده

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]... مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، کتاب: الايمان، جلد:7 صفحه:223۔

خلافي اوکړي په هغۀ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ◈ وعده ماتول به يــې نۀ خوښول ◈ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو ګس نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودريږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هٰغه ګس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغه ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پۀ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَالله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يــې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه ګس اونه رټلو او نۀ پۀ جلال کښې راغلو، بس دومره يــې وفرمائيل: اے سړيه! تا زۀ پۀ مشقت کښې واچولم۔ [2] الله پاک دې مونږ هم پۀ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکــتبة الــمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو

[1] … بخاری، کتاب: جزیہ، صفحه: 815، حديث: 3179۔

[2] … اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحه: 781، حديث: 4996۔

زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد